
قرآني بيان

# د حضرت اِبراهیم عَلَیہِ السَّلَام

# درې اوصاف

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

06-JUNE-2025



د جُمعَةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 6 جون، کال 2025ء (9 ذو الحجة الحرام، کال 1446ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم د

# د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام درې اوصاف

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مقرب څوک؟
- د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام درې اوصاف
- حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او د الله پاک محبت
- د ذِکرُ الله اوريدو د پاره يې هر څهٔ قُربان کړل

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِیَّ الله    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

الله پاک فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ط يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾
(پاره:22، سورۂ احزاب:56)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه الله او د هغهٔ فرښتے پهٔ نبي باندې درود لیږي. اے ایمان والؤ! پهٔ هغوئي باندی درود او ډیر ډیر سلام ولیږئ۔

اِمامِ سخاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ دې آيت مبارک کښې الله پاک د خپل خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قدر او منزلت بيان کړے دے چې الله پاک پهٔ خپلو مقربو فرښتو کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ثناء کوي او فرښتے پهٔ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود ليږي، بيا يې زمکې والؤ ته حُکم وکړو چې هغوئي دې هم پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود او سلام ليږي د پاره د دې چې پهٔ زمکه او اسمان کښې ټول مخلوق د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ثناء کښې مشغول شي۔ (1)

---

[1] ...القول البديع، افراد الصلاة عن التسليم ...الخ،صفحه:35 خلاصة ۔

درود اُن پہ بھیجو سلام اُن پہ بھیجو | یہی مؤمنوں سے خدا چاہتا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ جَلَّ شَانُه (يعنې الله پاک فرمائي):

اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۸﴾

وَقَالَ فِيْ مَقَامٍ آخَر (او الله پاک جَلَّ شَانُه پۀ يو بل ځائے کښې فرمائي):

اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د سُنَّتِ اِبراهيمي د ادا کولو يعنې د قربانۍ برکتي ورځې راتلونکې دي، خوش قِسمته خلق به د الله پاک او د هغۀ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حُکم باندې عمل کوي او د حضرت اِبراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د سُنَّت د ادا کولو سعادت به حاصلوي، الله پاک دې د دغه ټولو کوشش او محنت او دا نيک عمل پۀ خپله بارګاه کښې قبول کړي او څوک چې د قربانۍ کولو وَس نۀ لري، الله پاک دې هغوئي له هم وَس ورکړي او پۀ نيک نيتۍ او د زړۀ پۀ خوشحالۍ سره دې ورته د قربانۍ کولو توفيق ور عطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

اے مسلماں! سُن یہ نکتہ درسِ قرآنی میں ہے | عظمتِ اسلام و مُسلِم صرف قربانی میں ہے

## د اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مُقَرَّب څوک؟

پۀ دريمه سيپاره، سورۀ آلِ عمران، آيت: 68 کښې الله پاک فرمائي:

اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِیْمَ لَلَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُ وَ هٰذَا النَّبِیُّ وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَ اللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۸﴾

(پارہ:3 ، سورۂ آلِ عمران:68)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: بے شکه د ټولو نه زیات د اِبراهیم حق دار هٰغه خلق دي کوم چې د هغوئي تابعداري کوونکي دي او دا نبي او ایمانداران، او الله د ایمان والؤ مددګار دے۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د لفظِ اَولىٰ 2 معنې وي: (1): نزدې (2): حق دار۔ په دې آیت مبارک کښې د قُرب والا معنىٰ هم کیدے شي او د حق دار والا هم، مطلب به دا جوړیږي چې په دې دُنیا کښې هم او د قیامت په ورځ به هم حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ته ډیر نزدې او د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام حق دار هٰغه خلق وي، ځوک چې د هغوئي په لار باندې روان وي۔ [1]

په تفسیر صِراطُ الـجِنَان کښې دي: د دې آیت مبارک نه درې مسئلې معلومې شوې: (1): د نبي قُرب د هغوئي په تابعدارۍ سره حاصلیږي (2): هُم مسلمانان رښتوني اِبراهیمي دي، ځکه ټول اِبراهیمي سُنَّت مثلاً: حج، قُرباني، سنت، کیره وغیره په اِسلام کښې موجود دي (3): دریمه مسئله دا معلومه شوه چې د بزرګانو (یعني د الله پاک د نیکانو بندګانو، نبیانو او ولیانو) سره نسبت د الله پاک اعلىٰ نعمت دے چې کوم د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام سره رښتونے نسبت لري، [2] د هغوئي کامِلې تابعدارۍ کولو والا دي، الله پاک د هغوئي د پاره فرمائي:

وَ اللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۸﴾

(پارہ:3 ، سورۂ آلِ عمران:68)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او الله د ایمان والؤ مددګار دے۔

---

1… تفسیرِ نعیمی، پارہ:3 ، آلِ عمران، زیرِ آیت:68 ، جلد:3 ، صفحه:532 خلاصةً۔

2… تفسیر صراط الجنان، پارہ:3 ، آلِ عمران، زیرِ آیت:68، جلد:1 ، صفحه:496 بتغیر قلیل۔

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د آيت مبارک د دې حصې لاندې فرمائي: (معلومه شوه چې نيک) اعمال نيغ پۀ نيغه د نجات ذريعه نۀ ده بلکې نيک اعمال د پيغمبر د قُرب [يعنې نزدې والي] ذريعه ده، د پيغمبر قُرب د الله پاک د قُرب وسيله ده او د الله پاک قُرب د رحمت او د بخښنې ذريعه ده۔ (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د دې آيت مبارک نه معلومه شوه چې که چرې مونږه د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام قُرب غواړو نو دې د پاره به د هغوئي د سيرت او د کردار نه، د هغوئي د پاکو عادتونو نه رڼا اخستل او د هغوئي پۀ شان اعلیٰ اوصاف اختيارول هم ضروري وي۔

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام درې اعلیٰ اوصاف

مونږه د بيان پۀ شروع کښې د 12 سيپارې، د سورۀ هُود د آيت: 75 د څۀ حصې اوريدو سعادت حاصل کړو، د دې آيت مبارک پۀ دې حصه کښې رَبِّ کريم د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام درې اعلیٰ اوصاف بيان کړل، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ (پاره:12، سورهٔ هود:75) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه اِبراهيم ډير تحمل والا، ډير اسويلې کوونکے، رجوع کوونکے دے۔ |

دا درې اَعلیٰ اَوصاف دي: (1): حِلم (2): اَوَّاه او (3): مُنِيب۔

## حِلم څۀ ته وئيلے شي---؟

د حِلم معنیٰ ده: زغمل، د زړۀ نَرمي (***Tolerance***)۔ اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې اِنسان له غصه ورشي او هغۀ د کوشش کولو سره، د تکلّف سره، نفس مجبوره کړي او غصه قابو کړي نو دې عمل ته كَظمُ الغَيظ (يعنې غصه خنبل) وئيلے شي، که چرې بيا

---

1… تفسيرِ نعيمى، پاره:3، آلِ عمران، زيرِ آيت:68، جلد:3، صفحه:535 بتغير قليل۔

بیا دغه شان د غصې ښنبلو مشق (***Practice***) وکړے شي، تر دې پورې چې داسې حالت شي چې غصه هډو راځي نه او که چرې غصه راشي نو هم د دې په قابو کولو کښې د تکلف نه کار اخستل نۀ وي بلکې په اسانۍ سره غصه قابو شي، دې ته حِلم وئیلے شي۔ (1)

د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام اعلیٰ صفت څۀ دے؟ حِلم۔ هغوئي ډیر د حِلم والا وو، کله چې به هم چا د هغوئي سره د جهالت والا معامله کوله نو هغوئي به د صبر او زغملو، نرمۍ او برداشت مظاهره کوله۔

## د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د حِلم یو مثال

د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام یو ترۀ وو: آزر۔ دا کافِر او مُشرک وو، په خپلو لاسونو باندې به یې بُتان جوړول، هغۀ به یې خرڅول او د هغې عبادت به یې هم کولو۔ حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام یو ځل هغۀ ته د نیکۍ دعوت ورکړو او د شفقت په توګه یې هغۀ ته د ترۀ نۀ بلکې په والِد سره اواز اوکړو، اوئې فرمائیل: ❀ اے زما والِده! تۀ ولې د داسې څیز عبادت کوې کوم چې نۀ څه اورې، نۀ وینې، نۀ تا ته څۀ فائده درکولے شي ❀ اے زما والِده! اللّٰه پاک ما ته خپله پیژندګلو عطا کړه، زما طرف ته یې وحي وفرمائیله، ما ته یې د عِلم دولت راعطا کړو، ځکه زما په لار روان شۀ! زۀ به تا ته نیغه لار دروښایم ❀ اے زما والِده! په شیطان پسې مۀ ځه، بے شکه شیطان د رَبِّ رحمان لوئې نافرمانه دے ❀ اے زما والِده! زما سره ویره ده هسې نۀ چې په تا باندې د اللّٰه پاک عذاب نازل شي۔

غور وکړئ! څومره خوږ او ښکلے انداز دے، هغوئي د نیکۍ په دې مختصر دعوت کښې خپل ترۀ 4 کرته د والِد په نوم راوبللو، په نرمۍ سره، په محبت سره، په ځانګړي انداز کښې یې پوهه کړو خو آزر څۀ جواب ورکړو؟ اوئې وئیل:

---

[1]… احیاء علوم الدین، کتاب ذم الغضب و الحقد و الحسد، بیان فضیلة الحلم، جلد:3، صفحه:218 خلاصةً۔

اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِیْ یٰۤاِبْرٰهِیْمُ ۚ لَىٕنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ
(پارہ:16 ، سورۂ مریم:46)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: آيا تهٔ زما د معبودانو نه مخ اړوې؟ اے اِبراهيمه! بے شکه که تهٔ منع نهٔ شوې نو زهٔ به تا پهٔ کاڼو اُووَلم-

اَللّٰہُ اَکْبَر! خومره سخته لـهجه ده، آزر د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د ګلونو پهٔ بدله کښې لکه چې پهٔ هغوئي باندې کاڼي وه ورول يعنې د دومره ښکلي نيکۍ يـې داسې تريخ جواب ورکړو خو د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د حِلم نه قربان شم! هغوئي د آزر د دې زهريله غشو پهٔ جواب کښې ګلونه وه ورول، اوئې فرمائيل:

سَلٰمٌ عَلَیْكَ ۚ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّیْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِیْ حَفِیًّا ﴿۴۷﴾
(پارہ:16، سورۂ مریم:47)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: بس تا ته سلام دے، نزدې ده چې زهٔ به ستا د پاره د خپل رَبّ نه بخښنه غواړم بے شکه هغهٔ پهٔ ما ډير مهربانه دے-

بيا حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د آزر د پاره دعاګانې هم کولې، اخر چې کله پهٔ هغوئي باندې واضحه کړے شوه چې آزر به پهٔ يو حالت کښې هم ايمان نهٔ راوړي، هغهٔ د الله پاک دښمن دے، بيا هغوئي د هغهٔ د پاره د بخښنې دُعا پريښودله- (1)

لفظوں کی آبرُو کو یُوں نہ گنوایئے کہ | جو مانتا نہیں اسے کہنا فضول ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے حِلم---!! حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يـې پهٔ محبت سره پوهه کوي او آزر پهٔ کاڼي د ويشتو دهمکي ورکوي، حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام بيا هم بد نهٔ ګڼي بلکې د هغهٔ سره د نرمۍ او د حِلم سلوک کوي-

الله پاک دې مونږ ته هم د حِلم دولت راعطا کړي- دلته عام طور د حِلم او د برداشت کمے دے، خاص طور د پوهه کولو پهٔ معامله کښې خو د ډيرې تيزۍ او سختۍ نه کار

1...تفسير صراط الجنان، پاره:16، مريم، زيرِ آيت:47، جلد:6، صفحه:114 خلاصةً-

اخستے شي ❀ مور پلار چې خپل بچي پوهه کوي نو د غصې نه سرۀ راوخيژي ❀ وړوړ چې وړوړ پوهه کوي ❀ که پۀ کور کښې چا له د نيکئ دعوت ورکول وي ❀ بهر چا له د نيکئ دعوت ورکول وي نو خلق سختې جملې وائي مثلاً: ❀ تۀ ما سل ځله پوهه کړې خو تۀ نۀ پوهيږې ❀ څۀ عقل در پکښې هم شته او که نۀ ❀ دماغ دې که پۀ سَر کښې دې بوس دې وغيره جملې وئيلے کيږي او د مخامخ کَس نور نفرت پيدا کوي او که مخامخ کَس څۀ جواب ورکړي نو بيا خو بس---!! ❀ غاښونه به چيچي ❀ مُتې به کوي ❀ چې نۀ يـې اورې نو څۀ ورکيږۀ ❀ زما دربانديې هيڅ پروا نشته، که پوهيږې او که نۀ ❀ ستا پۀ خَته کښې منل نشته وغيره وائي او د نيکئ دعوت چې څه نا څه اثر پاتې وي هغه هم ختموي-

کاش چې زمونږه د حِلم دولت نصيب شي ❀ که مخامخ کَس غصه شي نو حِلم اختيار کړو! ❀ که مخامخ کَس کنځلې وکړي نو حِلم اختيار کړو! ❀ که مخامخ کَس څۀ بد وکړي نو حِلم اختيار کړو! ❀ که څوک مو ووهي نو بيا هم حِلم اختيار کړو ❀ څوک راله تکليف راکړي نو بيا هم حِلم اختيار کړو ❀ که څوک راسره د جهالت والا معامله وکړي نو بيا هم حِلم اختيار کړو ❀ بس چې مونږه حِلم د خپل ژوند اُصول جوړ کړو، وه به ګورئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ ژوند کښې به مو سکون هم راشي، پۀ خبرو کښې به مو اثر هم پيدا شي، کردار به مو هم ښائسته شي، عزت به مو هم زيات شي او که اللّٰه پاک وغوښتل نو پۀ اخرت کښې به مو هم بيړۍ پار شي-

| | |
|---|---|
| تُو عطا حِلم کی بھیک کر دے | میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے |
| تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے (1) |

## تر څو پورې به د حِلم نه کار اخلو---؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دلته يوه بله خبره هم ياد ساتئ! د حِلم يوه قاعده ده، هغۀ

1...وسائِلِ بخشش، صفحه:138۔

دا ده چې څومره د مخامخ ګس جهالت زیاتیږي، هُغه همره زمونږه حِلم هم زیات شي- دلته د دې اُلټا کیږي، بنده یـې د یو حد پورې خو برداشت کړي خو د بَل طرف نه چې ځنګه د جهالت، غصې، د مسخرو او د زړۀ ازارولو والا رویه زیاتیږي، پۀ هُغه حساب سره زمونږه حِلم هم کمیږي- دا غلطه خبره ده، زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک صفت دا دے، بلکې پۀ مخکښینو اِسلامي کتابونو کښې د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دا بیان کړے شوے چې د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره که څوک هر څومره د جهالت والا سلوک وکړي نو د هغوئي حِلم به هم هُغه همره زیاتیږي- پۀ حدیثونو کښې داسې واقعات موجود دي چې اهلِ کتابو باقاعده د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې صفت جائزه واخسته، چې کله هغوئي وکتل چې واقعي د هغوئي سره هر څومره هم د جهالت والا سلوک وکړے شي نو هغوئي هُم هُغه همره د حِلم مظاهره کوي نو جائزه اخستونکي کلمه وئیلې ده او مسلمان شوے دے- (1)

## د حِلم مختصر فضائل

کاش چې زمونږه هم د حِلم داسې دولت نصیب شي--!! ✿ **حِلم** د الله پاک صفت دے ✿ **حِلم والا** د الله پاک خوښ او محبوب بنده جوړیږي ✿ فرښتے د **حِلم والا** مدد کوي ✿ خلق د **حِلم والا** تعریفونه کوي ✿ او **حِلم والا** اِنسان اوچتو درجو ته رسي ✿ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: 5 څیزونه د انبیائے کرامو علَیهِمُ السَّلام سُنَّت دي، (پۀ هغې کښې یو) **حِلم** دے- (2) ✿ پۀ یو حدیثِ پاک کښې دي: بے شکه مسلمان د حِلم پۀ ذریعه د ورځې د روژه نیوونکي او د شپې د عبادت کوونکي درجه بیامومي- (3) ✿ پۀ یو حدیثِ پاک کښې دي: د قیامت پۀ ورځ باندې به مخلوق راجمع

---

1...معجمِ کبیر، جلد:3، صفحه:332، حدیث:5002 خلاصةً-

2...معجم کبیر، جلد:5، صفحه:324، حدیث:11282-

3...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:369، حدیث:6273-

کړے شي، يو اعلان کوونکے به اعلان کوي: فضيلت والا چرته دي؟ دا چې واوري نو ځيني خلق به راپاڅي او زر به د جنَّت طرف ته روان شي، فرښتے به د هغوئي نه پوښتنه کوي؟ تاسو پۀ تادي تادي د جنَّت طرف ته ولې ځئ؟ هغوئي به وائي: هم مونږه د فضيلت والا يو- فرښتے به ترينه پوښتنه وکړي: ستاسو فضيلت څۀ دے؟ هغوئي به وائي: کله چې به پۀ مونږ باندې ظلم کيدو نو مونږ به صبر کولو، چې زمونږ سره به خرابه رويه اختيار کړے شوه نو معاف کول به مو او چې کله به چا د **جهالت والا سلوک کولو نو مونږ به د حِلم نه کار** اخستو- (1)

تُو عطا حِلْم کی بھیک کر دے
میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے
تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے (2)

## حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام آوَّاه دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام دويم صفت کوم چې د سورۀ هُود پۀ آيت: 75 کښې ارشاد شو، هغه دے: آوَّاه- د دې لفظي معنیٰ ده: ډير آسويلي کوونکے- حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام پۀ دې صفت کښې هم ډير کمال لرلو، هغوئي به د الله پاک د ويرې له وجهې، د الله پاک پۀ محبت کښې ډير آسويلي او ژړاګانې او زارۍ کولې-

## د حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د آسويلو او ژړا دوه مثالونه

❁ پۀ اِحياءُ عُلُومِ الدِّين کښې دي: د الله پاک خليل حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام چې به کله پۀ نمونځ ودريدو نو **د الله پاک د ويرې** نه به يې دومره ژړل چې پۀ يو ميل (تقريباً يو نيم کلوميټره) فاصله کښې به هم د هغوي پۀ سينه کښې راپورته کيدونکے اواز اوريدے شو- (3) ❁ دغه شان چې به کله پۀ حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام باندې **د الله پاک ويره** غالبه

1...شُعَبُ الْاِيْمان، باب فی حسن الخلق، فصل فی التجاوز...الخ، جلد:6، صفحه 263، حديث:8086 بتغير قليل-
2...وسائِلِ بخشش، صفحه:138-
3...احیاء علوم الدین، کتاب الخوف و الرجاء، بيان احوال الانبياء...الخ، جلد:4، صفحه:222-

شوه نو دومره به يــې ژړل چې الله پاک به (د هغوئي د تسکين د پاره) حضرت جبرائيل عَلَیْهِ السَّلَام راليږلو، حضرت جبرائيل عَلَیْهِ السَّلَام به عرض کولو: اے اِبراهيمه عَلَیْهِ السَّلَام! (الله پاک فرمائي) آيا تاسو څوک داسې دوست ليدلے دے کوم چې خپل دوست له عذاب ورکوي؟ حضرت اِبراهيم عَلَیْهِ السَّلَام چې به دا واوريدل نو فرمائيل به يــې: اے جبرائيله! چې کله زۀ خپل ځان ته نظر وکړم نو دا رانه هير شي چې زۀ د الله پاک خليل يم- [1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا دے د حضرت اِبراهيم عَلَیْهِ السَّلَام د اَوَّاه صِفت- هغوئي د الله پاک نه ډير ويريدونکي، د الله پاک پۀ محبت کښې، د هغۀ پۀ ويره کښې ډير اَسويلي کوونکے وو- کاش چې د حضرت اِبراهيم عَلَیْهِ السَّلَام پۀ وسيله زمونږه هم د الله پاک د ويرې دولت نصيب شي-

ترے خوف سے، تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھرتھر رہوں کانپتا یااِلٰہی!
مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دَم | ترے خوف سے یاخُدا یااِلٰہی!

## د الله پاک د ويرې نه د ژړيدو فضيلت

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د کوم مؤمِن بنده د سترګو نه چې **د الله پاک د ويرې** پۀ سبب اوښکې راووځي اګر که د مچ د سر برابر وي، بيا هُغه اوښکې د هغۀ د مخ ظاهري حصې ته راورسي نو الله پاک هُغه مخ پۀ دوزخ باندې حرام کړي- [2]

جی چاہتا ہے پھوٹ کے روؤں ترے ڈر سے
اللہ! مگر دِل سے قَساوت نہیں جاتی

پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **د الله پاک د ويرې** نه ژړيدونکے به هيڅکله دوزخ ته نۀ داخليږي تر دې چې پي تي ته واپس لاړ شي- [3]

---

1...مِنْهَاجُ الْعَابِدِين، العقبة الخامسة عقبة البواعث، اصل الثانی...الخ، صفحه:316-
2...شُعَبُ الْاِيْمَان، جلد:1، صفحه:490، حديث:802-
3...ترمذی، کتاب فضائل الجهاد، باب ما جاء فی فضل الغبار...الخ، صفحه:415، حديث:1633-

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: مطلب دا دے چې لکه څنګه چې د تي نه د وتلو پئیو واپس تي ته تلل ممکن نۀ دي، هم دغه شان د الله پاک د ویرې نه د ژړېدونکي ګس دوزخ ته تلل ممکن نۀ دي۔ (1)

لائِق نار ہیں مرے اعمال | التجا یاخُدا کرم کی ہے (2)

کاش چې زمونږه هم د الله پاک نه ویره نصیب شي، لکه څنګه چې مونږ د سُنَّتِ اِبراهیمي د ادا کولو د پاره قُرباني کوو، کاش چې هم داسې د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام صفت اختیار کړو او اَوَّاه (یعني د الله پاک د ویرې په وجه په کثرت سره اسویلي کوونکي، د الله پاک د ویرې نه ژړېدونکي، اوښکي توئیونکي) جوړ شو۔

ترے خوف سے، تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی!
مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دَم | ترے خوف سے یاخُدا یااِلٰہی! (3)

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام مُنِیب دے

د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام درېیم صفت کوم چې په قرآنِ کریم کښې بیان شو هغه دے: مُنِیب- دا لفظ د اِنَابَةٌ نه جوړ دے او د اِنَابَةٌ معنیٰ ده: اَلرُّجُوْعُ مِنَ الْكُلِّ اِلٰى مَنْ لَهُ الْكُلُّ هر څۀ پرېښودل او صرف د هغۀ کیدل څوک چې د ټولو مالِک دے۔ (4) په دې لحاظ سره به د آیت مبارک معنیٰ وي: حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د دُنیا او د دُنیا د هر څۀ پرېښودو سره صرف د الله پاک طرف ته رجوع کوونکے دے۔

1...مرآة المناجیح، جلد:5، صفحه:436 بتغیر قلیل۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه:141۔
3...وسائلِ بخشش، صفحه:105 بتقدم وتاخر۔
4...نَضْرَةُ النعیم، حرف الف، جلد:3، صفحه:540۔

## حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام او د الله پاک محبت

پۀ دې معامله کښې خو حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د ځانګړې شان مالِک دے- حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې د الله پاک پۀ محبت کښې څنګه قربانۍ ورکړې دي، د هغې مثال نۀ میلاؤېږي- ❁ هغوئي چې کوم قوم ته د نبي پۀ حیث ولیږلے شو، هُغه کافِر قوم وو، هغوئي ته حُکم وشوچې هغوئي له د نیکۍ دعوت ورکړئ! هغوئي ښه پۀ صبر او تحمّل سره، پۀ حُکمت عملۍ سره د نیکۍ دعوت ورکړو، خلقو مَعَاذَ الله! هغوئي ته د نقصان رسولو کوشش وکړو، هغوئي ته یې تکلیف ورسولو، هغوئي د الله پاک د رضا د پاره د دې هیڅ پروا ونکړه ❁ د الله پاک د رضا د پاره هغوئي د نمرود خلاف ښکاره د حق کلمه ووئیله او د خطرو باوجود پۀ دې باندې کلک ودریدلو ❁ بیا چې کله نمرود د هغوئي مَعَاذَ الله! پۀ وور کښې د اچولو کوشش وکړو نو هغوئي پۀ هغې هم صبر وکړو، یعنې د الله کریم پۀ لاره کښې د خپل ځان د قُرباني کولو نه هم پښا نشو ❁ بیا هغوئي ته د خپل کور کلي د پریښودو او د هجرت کولو حُکم وشو، هغوئي د هغې قُرباني هم ورکړه ❁ د هغوئي د زوي حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام ولادت وشو، حُکم وشو: دا او د هغوئي مور حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهَا پۀ مکه مکرمه کښې پرېږده او رازه ترې ، حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک د رضا د پاره دا قُرباني هم ورکړه ❁ بیا حُکم وشو: د خپل زوي حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام قُرباني پیش کړئ! حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د زوي پۀ مرۍ باندې هم چاړۀ کېښودله- غرض دا چې د هغوئي پاک سیرت چې ولولې نو هر یو د عقل خاوند به دا فیصله کوي چې هغۀ ډېر عظیم شخصیت دے چا چې **هر څیز د مالِک یعنې د الله پاک د پاره هر څۀ قربان کړل-**

## د ذِکرُ الله اوریدو د پاره یې هر څۀ قُربان کړل

پۀ یو روایت کښې دي چې: (د هجرت نه پس) الله پاک حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ته ډېر مال عطا کړے وو، د هغوئي سره ګډې چیلۍ [بیزې]، اوښان غواګانې وغیره دومره

ښاروي وو چې د هغې د حفاظت د پاره هغوئي 5 زره سپي ساتلي وو، د هر يو سپي په غاړه د سرو زرو پټۍ وه، يو ځل هغوئي د خپلو ښاروو خيال ساتلو، هُغه وخت يوه فرښته په اِنساني شکل کښې راغله او په يو غار کښې کښيناسته او د الله پاک ذِکر يـې شروع کړو- حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د فرښتے اواز واوريدلو نو غار ته لاړو، هلته کښيناستو او ذِکر الله اوريدل يـې شروع کړو- څۀ وخت پس فرښته خاموشه شوه- حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: زما د محبوب (يعنې د الله پاک) ذِکر نور وکړئ! فرښتے ووئيل: مخکښې ما په خپله خوښه باندې ذِکر کولو، اوس به يـې ستاسو په خوښه باندې کووم نو ما له به څۀ راکوئ؟ هغوئي ورله خپلې ټولې چيلۍ ورکړې- فرښتے بيا ذِکر شروع کړو- هغوئي اوريدلو- څۀ وخت پس فرښته بيا خاموشه شوه- هغوئي وفرمائيل: نور ذِکر وکړئ! فرښتے ووئيل: اوس به څۀ راکوئ؟ هغوئي خپل ټول اوښان ورکړل- غرض دا چې داسې يـې په نمبر نمبر ټول ښاروي، خپل ټول جائيداد، کور، ټول مال ورکړو، اخر چې هر څۀ ختم شول نو فرښتے ووئيل: اوس به د ذِکر الله اوريدو د پاره څۀ راکوئ؟ اوئې فرمائيل: اوس خو بس هم ما واخلئ خو د الله پاک ذِکر راته وکړئ- بيا فرښتے ووئيل: تاسو د الله پاک خليل يئ- د هُغې ورځې نه د هغوئي لقب خليلُ الله شو- [1]

سُبْحٰنَ الله! دا دي اَلرُّجُوْعُ مِنَ الْكُلِّ اِلٰى مَنْ لَهُ الْكُلُّ يعنې هر څۀ پريښودل او صِرف د هغۀ کيدل ځوک چې د ټولو مالِک دے- کاش چې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په وسيله مونږه هم مُنِيب جوړ شو- مونږه هم د نفس د خواهشاتو نه نجات حاصل کړو، د زړۀ نه د دُنيا محبت اوباسو، د مال د محبت نه نجات حاصل کړو، د دُنيا عارضي فاني عزت، شهرت، د عهدې او منصب طلب پريږدو، د اخرت فِکر وکړو، د الله پاک د رضا طلب ګار جوړ شو- کاش چې زمونږه د ټولو نه وړومبے او اخري مقصد صرف او صرف د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي کول جوړ شي-

---

1...تفسيرِ نعيمی، پاره:5، النسآء، زيرِ آيت:125، جلد:5، صفحه:515 بتغير قليل۔

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یاالله! مِری جھولی بھر دے( 1 ) |

## د حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام سره به نسبت کله صحيح کيږي؟

حُضُور غوثِ اعظم شيخ عَبدُ القادر جيلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: مؤمِن بنده پهٔ لِمَ (يعني ولې)؟ او پهٔ كَيفَ (يعني څنګه)؟ نهٔ پوهيږي (يعني بندهٔ مؤمِن دې ته نهٔ ګوري چې حُکم ولې راکړے شو؟ څنګه راکړے شو بلکې يو مسلمان صرف دې ته ګوري چې حُکم چا راکړو؟ الله پاک حُکم راکړے دے، د هغهٔ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم راکړے دے نو بيا بنده هغه پوره کوي، پهٔ هغې باندې اعتراض نهٔ کوي، که د خپل سر پهٔ بدله ولې نهٔ وي، هغهٔ د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ حُکم باندې عمل کوي)-

غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نور فرمائي: نفسِ اَمَّاره صرف شَر دے، که اِنسان مجاهده وکړي (يعني ځان پهٔ مشقت کښې واچوي، پهٔ هر حال کښې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ حُکم باندې عمل وکړي نو پهٔ ورو ورو) د نفسِ اَمَّاره نه نفسِ مُطمَئِنَّه جوړ شي، چې کله نفسِ اَمَّاره نفسِ مُطمَئِنَّه جوړ شي نو اِنسان تابعداري کوي، د ګناهونو نه بچ کيږي، دې درجې ته پهٔ رسيدو د اِنسان نفس نه صرف خير جوړشي، هغه وخت د اِنسان نفس د انساني خواهشاتو نه بچ کيږي، پوره طور پهٔ الله پاک باندې باور لري او هم دا هغه درجه ده چې د اِنسان د حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام سره نسبت صحيح کيږي (يعني دې درجې ته چې ورسي نو دا وئيلے کيدے شي چې دا بنده پهٔ سُنَّتِ اِبراهيمي باندې عمل کولو والا دے)، هغه وخت الله پاک د بنده بے حسابه مدد فرمائي او پهٔ اخرت کښې هغهٔ ته بے حسابه نعمتونه عطا کوي-(2)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا دے د قرباني اصلي سبق چې مونږه د الله پاک کامِله تابعداري وکړو، څهٔ؟ ولې؟ څنګه؟ ته نهٔ ګورو، د عقل نه کار نهٔ اخلو بلکې

---

1...وسائل بخشش، صفحه:123۔

2...الفتح الربانی والفيض الرحمانی، المجلس الاول، صفحه:14 خلاصةً۔

سترګې پټې کړو او د شريعت په حُکم باندې عمل وکړو، د نفس د خواهشاتو نه ځان بچ کړو، د نفسِ اَمَّاره د خباثتونو نه ځان بچ کړو، خپله اِصلاح وکړو او تر دې پورې چې په نفسِ مُطمَئِنَّه حاصلولو کښې کامياب شو۔

محيط دِل پہ ہوا ہائے نفسِ اَمّارہ | دِماغ پر مرے ابلیس چھا گیا یارَبّ!
رہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے | ترے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یارَبّ! (1)

## د نفس د خواهشاتو نه بچ اوسئ!

په حديثِ پاک کښې دي: لَايُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ په تاسو کښې يو بنده تر هغه وخته پورې (کامِل) مؤمِن کيدے نشي ، تر څو پورې چې د هغهٔ خواهشات زما د راوړے شوي (دِين) تابِع نشي۔ (2)

علمائے کرام د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: په بنده باندې لازم دي چې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره داسې محبت وکړي چې هغه محبت هغهٔ د الله پاک او د هغهٔ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعدارۍ ته تيار کړي او د ګناهونو په لاره کښې خنډ [يعنې رکاوټ] جوړ شي۔ (3)

الله پاک دې مونږ ته داسې توفيق راعطا کړي، که مونږه د څاروو قُرباني کوو نو ضرور يې وکړئ خو ورسره ورسره د نفسِ اَمَّاره قُرباني هم وکړئ، د نفس خواهشات هم قربان کړئ، د خپلې اَنا، د خپل لالچ، د دُنيا د محبت وغيره هم قُرباني وکړئ، کاش چې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په وسيله، د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په وسيله زمونږه هم حقيقي تابعداري نصيب شي او د الله پاک د رضا طلب ګار بندګان جوړ شو۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

---

1...وسائلِ بخشش ، صفحه:78۔
2...السُّنَّة لابن ابي عاصم ، باب ما يجب ان كون...الخ، جز: 1 ، صفحه:46، حديث:15۔
3... جامع العلوم والحُكم ، صفحه:397، حديث:41۔

# نیک اعمال (Naik Amal) موبائِل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نیک جوړیدو او په نیکو اعمالو کښې د زیاتوالي د پاره د دعوتِ اِسلامي I.T ډیپارټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے د کوم نوم چې نیک اعمال دے، دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ، په دې ایپلي کیشن کښې: د اِسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بیلې بیلې رسالې موجودې دي ❁ دا په شپږو مختلفو ژبو ❁ انګریزی ❁ اُردو ❁ هندی ❁ بنګله ❁ ګجراتی او ❁ سندهی کښې استعمالیدے شي ❁ په دې کښې په مختلفو نیک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي، روزانه د خپلې خوښې وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه اخلئ، د دې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذهن جوړیږي، د زړۀ پاکوالے به نصیب کیږي او کردار به مو صفاء سوترا او ښکلے کیږي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## راځئ چې د بیان په اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمی په ګوته کول)

**مسئله:** په هر صاحِبِ نصاب باندې (بیله د خپل طرف نه) قُرباني واجِب ده۔ [1]

**وضاحت:** خلق دا غټه غلطي کوي: ❁ بعضې وخت په کور کښې د یو نه په زیاتو کسانو مثلاً پلار باندې بیله، په زامنو باندې بیله، په ورونړو او خوئیندو باندې بیله بیله قُرباني واجِب وي خو د عِلمِ دِین د کمې په وجه یو چیلے اخستے کیږي او د ټولو د طرف نه

---

1...دُرُّ المختار، کتاب الزکاة، باب صدقة الفطر، صفحه:139 ملتقطًا۔

قُرباني كولے كيږي- ظاهره ده چې پۀ چيلي كښې هم يوه حصه وي، د هغې 7 حصې نشي كيدے، ځكه د يو چيلي د ټولو د طرف نه پۀ قُرباني كولو د يو هم واجِب نۀ ادا كيږي-
❁ آؤ! فرض كړئ كه پۀ كور كښې پۀ 7 كسانو باندې قُرباني واجِب وي نو كه غټ خاروے واخلي او د 7 واړو د طرف نه يــې ذبح كړي نو د ټولو قُرباني به وشي- ❁ دغه شان كه يــې د بَل ژوندي اِنسان (مثلاً مور پلار، خپلو خپلوانو وغيره) د طرف نه قُرباني وكړه، نو بيا به هم قُرباني د هغوئي د طرف نه وي، خپل واجب به يــې نۀ ادا كيږي- ځكه چې پۀ چا باندې قُرباني واجب وي نو هغۀ له پكار دي چې هم خاص د خپل طرف نه بيله قُرباني وكړي يا دې پۀ غټ خاروي كښې خپله بيله حصه شامله كړي- لا د قربانی ورځې پاتې دي، خدائے دې نۀ كړي كه چرې داسې غلطي يــې كړې وي نو خاروے دې واخلي او خپل واجب دې ادا كړي-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احكامو د زده كولو او پۀ دې باندې د عمل كولو توفيق راعطا كړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ بركتونه (وظيفه)

## يَا رَافِعُ

خوک چې روزانه 20 كرته يَا رَافِعُ لولي نو د هغۀ مُراد به پوره شي- (1) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...مدنی پنج سوره، صفحه:249۔